آيا تاسو پوهېږئ چې غيبت څه ته وايي؟ هغو وويل: الله جل جلاله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: " په هغه څه سره دې د (مسلمان) ورور يادول چې هغه يې نه خوښوي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «آيا تاسو پوهېږئ چې غيبت څه ته وايي؟ هغو وويل: الله جل جلاله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: " په هغه څه سره دې د (مسلمان) ورور يادول چې هغه يې نه خوښوي." ووېل شو: پدې اړه خبر راکړه چې: که چېرته زما په (مسلمان) ورور کې هغه څه وي چې زه وايم؟ ويې فرمايل: "که چېرته هغه څه پکې وي چې ته يې وايې نو غيبت دې وکړ او که چېرته پکې نه وي نو تور (تهمت) دې پرې پورې کړ».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د حرام غيبت حقيقت بيانوي، چې هغه پسې شا د مسلمان يادول دي په هغه څه سره چې هغه يې نه خوښوي، برابره خبره ده که ځاني صفتونه وي او يا اخلاقي لکه: وروند، دوکه باز، دروغجن او داسې نور ناوړه صفتونه، اګر که دا صفت پکې موجود هم وي. او که چېرته پکې هغه صفت نه و، نو دا له غيبت نه هم سخته (ګناه) ده چې هغه تور پورې کول دي، يعني په يو چا د يو کار دروغ ويل چې په هغه کې نه وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5326

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee